# د اسلامي خطاطۍ او دکتابي مصورۍ تاريخي او تدريجي ارتقاء او درحمان بابا کلام

The Islamic Calligraphy, Miniature Art and Rehman Baba's Verses

پروفېسر داورخان داود*

**Abstract:**

In the underlined article the historical revolution of Islamic calligraphy and miniature art have been elaborated and discussed in detail. Moreover the said topics, if we go through them thoroughly, are the most attempted by any literary figure in Pashto literature so far. Apparently the calligraphy and miniature art are the two diverse modes and mediums of the artist. As such the verses of the worldly reputed and renowned poets have been beautified by the established artists through calligraphy of miniature art. Similarly the calligraphy and miniature art of Rehman Baba's verses are also made possible by some of the artists of Khyber Pakhtun khwa as mentioned in the article under discussion. These artists are required to do more in this regard so that the message of the Pashto poet / poets contained in their verses may be proved more effective and impressive for the readers. In this way both the poets and the artists will enjoy life-long popularity.

دنيا ، انسان او کائينات (د فطرت – Nature) د خالق عظيم المصور تخليق، تدقيق او ترتيب دی. بنيادم هم ددې دنقل (Immitation) درنقل، د عمل او رد عمل نه د ژوند په مختلفو څانګو کښې فهم او ادراک ترلاسه کړی دی. او د خپل فن او هنر (ART) معيارته يې دوام او استحکام بخښلی دی. خوش نويسي. خطاطي او کتابت (Calligraphy) او کتابي مصوري ( Miniature Art) چې د فنون لطيفه (Fine Art) دوه مشهورې او اهمې څانګې دي. هم د فطرت دتخليق رد عمل دی.

---

* Senior Research Specialist, Pashto Adbi Borad Peshawar

"کیلي ګرافي (Calligraphy) د یوناني لفظ نه اخستې شوې انګرېزي اصطلاح ده چې لغوي معنا یې ښائسته لیک دی او اصطلاحي معنا یې ده. دښائسته لیک دلیکلو فن او هنر"(1).

دخطاطۍ فن زرګونه کاله زوړ تاریخ لري. دافن که یو خوا زمونږ په کلتور کښې یو ځانګړی مقام لري نو بل خوا د اسلامي خطاطۍ نمونې په ټوله اسلامي نړۍ کښې مشهورې دي. دا فن لکه د فوکلور (Folklore) مونږ ته سینه په سینه را رسېدلی دی. دا یو بین الاقوامي صنف، فن او هنر دی چې د نړۍ د هر هېواد د ثقافت آئینه دار دی.

په وړومبي ځل عربو خطاطۍ او خوشنویسۍ ته وده ورکړه او دایې د دنیا په بهترینو فنونو کښې شامل کړل. د دې نه پس ایران دې ته توجه ورکړه. د دې دواړو اثرات دمسلمانانو د راتګ سره په هندوستان مرتب شول. په فني لحاظ سره په دربارونو کښې هم دې رواج وموندلو.

په اسلامي دور حکومت کښې د کتابت علم او هنر ته دعزت او احترام په نظر وکتلی شول او هم په دغه وجه د کاتبانو اوخوش نویسانو عزت افزائي کېدله. د مغلو په دور کښې دخطاطۍ فن ښه وده وکړه. په دې دور کښې خراب خط ډېر عیب ګڼلی شو او خراب خط لیکونکي کس به نوکري هم ډېره په ګرانه موندله. په دې وجه دخطاطۍ او خوشنویسۍ ډېر قدر ؤ. د شاهي خاندان وګړو او د امیرانو هلکانو به هم دخطاطۍ او خوشنویسۍ فن لاژمي طور زده کولو. د مدرسو او مکتبونو استاذان به هم په دې فن کښې ماهر وو چې شاګردانو ته به یې دخطاطۍ باقاعده تعلیم ورکولو. ددې نه علاوه په هر ښار کښې به پېشه ورخطاطان او خوشنویسان هم داسې موجود وو څنګه چې نن سبا چاپه خانې دي. دمغلو وړومبي بادشاه

بابر هم د خطاطۍ او خوشنویسۍ ډېر قدر دان ؤ. په دې خط کښې بابر دقران مجید د یو ې نسخې دکتابت نه پس مکې معظمې ته استولې وه.

دخطاطۍ مشهورې نمونې خط نستعلیق، خط نسخ، خط ثلث، خط رفع، خط دیوانی او خط شکسته دي دکائینات وړومبی خطاط حضرت ادریس علیه السلام ؤ. د حضور ﷺ په زمانه کښې به هم زیات ترصحابه کرامو دا فن ډېر په شوق اومینه زده کولو او قراني صحیفې به یې په ګوتو لیکلې.

دلته د حرفونو او خطونو یو لنډ شان تاریخ او تفصیل بیانولی شي.

څنګه چې د حرفونو د شکلونو ارتقاء یو تاریخ او یو داستان لري چې په ډېرو تهذیبونو او ژبو اړه لري خو ترکومه چې زمونږ دخطاطۍ دتاریخ تعلق دی. د دې شروع دکوفي خط نه کیږي.

"د اسلامي دور نه پس دا حقیقت په واضح ډول په ګوته کېدی شي. چې هم دغه خط دی چې دومره قدر او درناوی یې وموندلو چې د دواړو جهانو سردار سرورکائینات محمد ﷺ باندې چې کله قران پاک نازل شو. نو هم په خط کوفي کښې دقران کریم ایات ولیکلی شول خو وروستو بیا حضرت عثمان رضی الله عنه او حضرت علي رضی الله عنه په خط کوفي باندې د اعرابو اضافه وکړه. په دوېمه صدۍ هجري کښې د عباسیانو په دور کښې بغداد د اسلامي علومو مرکز ؤ نو ابو علي ابن مقلد د دې نه شپږ نور خطونه ایجاد کړل چې په کښې خط نسخ، خط رېحان، خط رفاع، خط افشاں او خط طغرا شامل دي. په دې خطو نو کښې د ټولونه زیات شهرت خط نسخ او خط ثلث وموندلو چې نن هم استعمالولی شي"(2).

دلته د خطاطۍ دفن ارتقائي جاج په دې ډول اخستلی شي.

" د اموي دور تر اختتامه پورې اسلامي دنیا د مختلفو فتو حاتو سره سره جنګونوسره اړمه وه په دې وجه دخطاطۍ فن ته سرکاري سرپرستي حاصله نهٔ شوه. خو عباسیه دور به د مسلمانانو دهنر او ثقافت د ودې دپاره همېشه یاد ساتلی شي. د عباسیانو په دور کښې (۱۳۳ھ - 656ھ) د خطاطۍ فن ته په سرکاري سطح سرپرستي حاصله شوه او د خطاطۍ دفن به په باقاعده ډول مقابلې کېدلې". ۳

د ډرائنګ په شان خطاطي هم د سکول، کالج او پوهنتون په سطح په درسي نصاب کښې شاملول په کار دي او د دې دپاره سرکاري سرپرستي ضروري ده.

خوشحال خان خټک (1022ھ - ۱۱۰۰ھ) هم دریم هنر دخط ښودلی دی. چې د ملوکانو دپاره یې زده کول ضروري دي. په دې لړ کښې خوشحال بابا وائي.

"علم او خط لازم او ملزوم دي. علم په مثال د وحشي دی. خط یې لکه کمند چې وحشي پرې قېد شي. دا هومره کتابونه به نهٔ وی که خط نهٔ وی. په حساب کتاب په سیاق به څوک پوهېدل که خط نهٔ وی. دجهان کارټول سره په خط دی. لوې هنر دی.منزلت، مرتبت یې هم ډېر دی قدر قیمت یې تر حساب تېر دی"(4).

دخط ډېر اړخونه او رنګونه دي. راځئ چې وګورو چې خوشحال خان په دې لړ کښې څهٔ وائي.

"زده کول د خط موقوف د کاتب په تعلیم دی. په خپل طور چې ښهٔ خط ګوري، کښې طبعي بالهٔ شي... چې کاتب خوشنویس ورته دخط قواعد ښئي. اصلاح ورکوي. هغه خط په قواعد زده شي او زر زده شي. خوش نویس هم هغه بالهٔ شی چې خط د استاد زده کا"( ۵ ).

په ټول پاکستان او خاص کر په خیبر پښتونخواکښې د دې فن ګڼ استاذان او هنرمندان دي. د اردو، فارسۍ، عربۍ او نورو مشرقي ژبو دناموړو اوستر و شاعرانو کلام هم دخطاطۍ دفن په ذریعه لیکلی شوی دی. یورپي خاصکر انګرېزي ادب هم دې فن ته ښکلا، ځلا او ارتقاء وربخښلې ده. داشان دخېبر پښتونخوا ځینې خطاطانو رحمان بابا د کلام هم خطاطي کړې ده. دا د دوی رحمان بابا سره د مینې او عقیدت یو جوت ثبوت او ځلنده مثال دی.

د پاکستان دجوړېدو نه وړاندې او وروستو هم دکمپیوټر تر ایجاد او دریافت پورې پېښور ښار دکاتبانو او خوشنویسانو دکار کولو او د زده کړې مرکز پاتې شوی دی. خو اوس دې هنر مندو خپل د خطاطۍ فن په کمپیوټر کښې بدل کړی دی. کمپیوټر نۀ صرف د دوی کار اسان او ګړندی کړی دی. خومتاسفانه فطري حسن یې په مصنوعي (مشیني ) حُسن کښې بدل کړی دی. اوس هم خال خال دغه هنر مند خپل فن او هنر سره پټ پالي او دکتابت او خوشنویسۍ کار یې د معاش ذریعه ګرځولې ده

Newrera مصوري د خطاطۍ یو ترقي یافته شکل دی. د خطاط کار همېشه د مصور نه وړاندې شروع کیږي ځکه دخطاطۍ کار او هنر زیاتره مصورانو ترلاسه کړی دی.

د ایران میني ایچر ارټ (Miniature Art) بنیادي لحاظ سره کتابي مصوري ده چې دیوې قیصې او د دې دکردار او واقعاتو دمصور کولو د پاره تخلیق کولی شي. د دې سائز د کتاب د یو ورق برابر وي او په دې کښې څلور واړو طرفونو ته ډېره پلنه حاشیه نقش کولی شي. دلته دبنیادمو، مناظرو، عمارتونو او څیزونو نقش ونګار واړۀ واړۀ دي. ځکه دانګرېزانو د راج په دوران کښې دې ته دمیني

اېچر ارټ يعني د وړو وړو نقشونو دمصورۍ نوم ورکړی شوی دی. د کتابي مصورۍ کار د اسلام په دور کښې شروع شوی دی.

اسلامي خطاطي او کتابي مصوري چې دفنون لطيفه دوه مشهورې څانګې دي. لازم او ملزوم دی. دمسلمانانو په دور حکومت کښې جنوبي اېشياء ( د پاک وهند براعظمګي) کښې فنون لطيفه ښه وده کړې وه داکاميابي اوکامراني دپاک وهند قومي ورثه ده. په براعظمګي کښې دمصورانو د اعلٰی او اوچت معيار د مصورۍ نمونې تخليق کړې. خطاطانو دقرآن پاک ايات په ډېر ښائسته انداز کښې وليکل او داشان دقرآني او اسلامي خطاطۍ اعلٰی نمونې يې تخليق کړې. اللّٰه تعالٰی دفطرت او قدرت داټول مناظر دانسان د ارام، اطمينان او آسائش دپاره تخليق کړي دي. دلته که ځناور، مارغان اوچينجي دي نو ونو، پولو او پټوهم د دې ماحول ښائست يو په دوه کړی دی. غرض دا چې ټول مخلوقات او تخليقات دانسان د استفادې او فائدې دپاره تخليق کړی شوی دی. ځکه شاعران، فنکاران او مصوران د دې ذکر په خپلو فنپارو او تخليقاتو کښې کوي چې د دوی تخليق او فن ته يو فطري او حقيقي رنګ ورکړي. رحمان بابا هم په دې باب له خپل ذهني اوفطري صلاحيتونه په کار راوستي دي. په دې لړ ک.ښې که درحمان بابا کلام په غور ولوستی شي نومعلومه به شي چې دی يو منظرنګار، فطرت نګار اوتمثيل نګار شاعر هم دی.

رحمان بابا په خپل کلام کښې ډېره حسينه او رنګينه منظرنګاري او مصوري کړې ده. که مصور خپلې مصورۍ ته د يو قلم، برش په ذريعه دخپل خيال او فکر رنګينې او حسينې جامې اچولې دي نو شاعرانو خاص کر رحمان بابا دخپل قلم، کاغذ او الفاظو په ذريعه

خپل خيال مجسم کړی دی. په دې وجه د دهٔ کلام نه د دې مصورۍ او منظرنګارۍ چې خارجې دنيا يې دخپل داخلي دنيا په ذريعه په کاغذ منتقل کړې ده يو څو نمونې وړاندې کولی شي.

"په درګـاه يـې درويـزه کانـدي دحُسن
کنـډولی پـه لاس سـپوږمیه هـم افتـاب
چـې د مـخ و آب وتـاب تـه يـې نظـر کـړم
راتـه هـيڅ شـي دګلونـو اب وتـاب
چـې نسـيم يـې د زلفينوراپيداشـي
درست مې ډوب کاندي په مشک او په ګلاب

لکـه ونـه مسـتقيم پـه خپـل مقـام يـم
کـه خـزان راباندې راشـي کـه بهـار

تـل بـه نـهٔ وي شـګفته ګلـزار د عمـر
نـهٔ بـه جـوړ وي هميشـه بـازار د عمـر

لکـه سـيند د اباسـين پـه غورزنـګ درومـي
هسـې يـون دی پـه تلـوار تلـوار د عمـر
لـه لـويۍ لـه سرکشـۍ زمـا توبـه ده
خدايـه څوک مـه کـړه داسمان پـه څېـر نسکور

پـه دنيـا کښـې لـه دنيـا ګوشـه کنـار شـه
سـمندر غونـدې پـه اور کښـې ګلعـزار شـه
دا ترخـې اوبـهٔ بـه څـهٔ کـوې دبحـر
خـود پـه خپلـه دګـوهر پـه څېـر ابـدار شـه
بـې لـه خدايـه نـور دهيچـا منـت مـه کـړه
پـه وچ کـاڼي بانـدې ونـه دکهسـار شـه "(6)

لکه چې تاسو ولیدل د رحمان بابا داچوڼ کړی شوی کلام د داخلیت او خارجیت، لفظ ومعنٰی، اسلوب او مضمون یو سپېڅلی امتزاج او ښکلی انتخاب دی. اوس یو مصور د رحمان بابا د وړاندې شوو شعرونو دخیالي دنیا عکس په خپل کېنوس په اسانه منتقل کولی شي.

"رحمان بابا خپله شاعری کښې مصوري هم کړې ده. هسې خو د هغهٔ ټوله شاعري مصوری ده... دهغهٔ دغزل داسې ډېر شعرونه په داسې شکل کښې دي لکه چې شاعر شعر نهٔ وي لیکلی بلکې په خپل لاس یې دیوې ښکلې جینۍ رنګین تصویر جوړ کړی وي. په دې لړ کښې مونږ د رحمان بابا داشعر وړاندې کوو.

"د سور پېزوان یې په سرو شونډو هسې زېب کا
لکـه جـیم پـه قلـم کښـلی کـا تبـانو"(7)

په دې شعر کښې دعربۍ په رسم الخط کښې لیکلی ج په داسې شکل لیکلی کېدی شي چې دج نه د یوې ښکلې او ښائسته جینۍ تصویر جوړ شي. داشان ټکي به څهٔ موده اول کاتبانو په هغه دور کښې لیکل په کوم دور کښې چې کمپیوټر نهٔ ؤ ایجاد شوی او د اردو پښتو،فارسۍ او عربۍ لفظونه به کاتبانو په خپل لاس لیکل او ځینې ټکو نه به یې د جینۍ یا هلک تصویر جوړ کړو.

د رحمان بابا ځلنده شخصیت د هغهٔ د فکر او فن نه زیات اهم دی او فکر وفن یې دشخصیت نه زیات دتوجه وړ دی.زمونږ شاعرانو، ادیبانو، مصورانو او خطاطانو یې د دې دواړو په ځلنده کولو کښې په خپل خپل رنګ او انداز کښې کوم کوششونه کړي دي. دا بحث د دې سلسلې یو ه کړۍ ده. خو دلته صرف د مصورانو او

خطاطانوپه حقله دکار او زيار خبره کولی شي. د رحمان بابا د دروند شخصيت او ځلنده فکر او فن ډېر رنګونه دي او هررنګ يې دبل نه زيات رنګين اوحسين دی. په دې رنګونو چې دکوم مصور نظر پرېوتی دی نو درحمان بابا شخصيت او فکر وفن سره سره يې خپل فن هم د عظمت او شهرت په بام خېژولی دی. خو ددې دپاره د يو تېز نظر او د ښې ژورې مشاهدې ضرورت دی.

دلته دا وئېل هم ضروري دي چې خطاطي او کتابي مصوري يو نړيوال فن او هنر دی چې دنړۍ دهرې ژبې په ادب کښې يې ډېرې ښکلې نمونې موندې شي. خو پښتو ادب لاپه دې حقله په خپلو پښو ولاړ نۀ دی، په دې لړکښې دا وئېل هم ضروري دي چې دشاعرۍ او مصورۍ پولې سره جنګېدلې دي. لکه چې وئيلی شوي دي. دواړه دفنون لطيفه اهمې څانګې دي. دواړه هم د يو ګودر نه اوبۀ څښې او دواړه هم په يوه پوله څري. خولاړې او چارې يې بېلې بېلې دي.

د دې نه وړاندې راقم الحروف په خپله يوه مقاله کښې رحمان بابا دهغۀ دشعرونو په رڼا کښې يو کاتب، خطاط يا خوشنويس هم په دې ټکو ثابت کړی دی.

"رحمان بابا هم لکه دستر خوشحال بابا صاحب علم وفضل سره سره صاحب هنر هم ؤ. د دۀفن او هنر ددۀ خطاطي. خوشنويسي او کتابت دی چې ددۀ د دور د مروجه علومو او فنونو يوه برخه ده"(8).

دلته دمثال په توګه دنورو ژبو دشاعرانو دخطاطي شوی او مصور کلام په نمونو يو زغلنده نظر اچولی شي.

د علامه اقبال مشهوره شعري مجموعه " جاوېد نامه " (فارسي کلام ) ۱۹۸۲ ء کښې دطبع خاص په توګه اقبال اکېډيمي پاکستان

لاهور مصور کړی دی. په دې کښې يو طرف ته اشعار او بل خوا دهغې مطابق مصوري شوې ده.

شاه نامه فردوسي " په ۱۳۶۹ھ کښې په ايران کښې چاپ شوې ده چې په کښې د اشعارو خطاطي او دې سره اړه لرونکې دمصورۍ نمونې هم ورکړی شوې دي. خطاط يې کرهلي شيرازي دی.

د رباعيات حکيم عمر خيام نېشاپوري خطاطي او مصوري په ۱۳۷۳ھ کښې په ايران کښې چاپ شوې ده. په مختلفو طرزونو کښې د اقبال دمختلفو اشعارو خطاطي انجمن خوشنويسان ايران په ۱۳۴۴ھ کښې کړې ده.

د اردو دسترو شاعرانو د کلام خطاطي او کتابي مصوري هم مختلفو خطاطانو اومصورانو په خپل خپل طرز او انداز کښې کړې ده.

د اردو دمشهورې مجلې " نقوش " غالب نمبر کښې دمرزا غالب دمکمل ديوان رنګينه خطاطي ورکړی شوې ده او ورسره يې د اشعارو مطابق رنګينه مصوري هم ورکړې ده. دا شان اردو ادب کښې د نورو شاعرانو دکلام خطاطي او مصوري هم د مختلفو خطاطانو او مصورانو ذوق او شوق آئينه داره ده.

نۀ يواځې د فارسۍ او عربۍ او اردو ژبو د ادب بلکې د انګرېزۍ دشاعرانو اشعارو ته هم دخطاطۍ او مصورۍ جامې وراغوستلی شوې دي چې د دغو ژبو د ادب اوثقافت يوه په زړۀ پورې پنګه ده.

د انګرېزي ژبې دموجوده جديد دور " پټرن او پوئټري" (pattern poetry) هم خطاطي او دمصورۍ سره تر ډېره حده مماثلت او مطابقت لري.

خو تراوسه دخيبر پښتونخوا خطاطانو او مصورانو درحمان بابا د ديوان (کلام) دخطاطۍ او کتابي مصورۍ يو منظم، مرتب اومسلسل

کوشش ته دوام نۀ دی بخښلی. خو په هر حال په دې لړ کښې چې کوم نیمګړی او غیر منظم قدم پورته شوی دی یا پورته کیږي. دهغو تفصیل او تفسیر به هم د اهمیت نه خالي نۀ وي.

د رحمان بابا په رنګین او حسین ګلستان کښې چې کومو مالیارو دخپل فن اوهنر په ذریعه نور حسین ګلونه کرلي دي. راځئ چې دهغو په خوشبویۍ خپل ذهنونه معطر او خپل زړونه منور کړو. محمد عارف منهاس (۱۹۴۲ء – ۲۰۱۱ء) دپېښور دمشهور ارټېسټ، ایم.ایم شریف زوی دی. ایم ایم شریف ارټېسټ دخطاطۍ دفن دمشهور کتاب " ید بیضا" مصنف هم دی. "ید بیضا" دخطاطۍ او خوش نویسۍ دفن د زد ه کړې لارښود (Guide) دی چې په کښې د ذکر شوي فن د زده کړې کونکو دپاره د دې فن جزئیات او تفصیلات په مکمل ډول ورکړی شوي دي چې دخط (حروفو) د ټولو قسمونو په غرض اړه لري.

ان ید بیضا کہ اعجازے بموئی شد پذیر
این ید بیضا کہ دمثلش نہ باشد چون نظیر

داېم. ایم شریف ټول خاندان د دې فن ماهران او استاذان دي. این خانه همه آفتاب است

د دۀ داپیغام د ټولو خطاطانو د زده کړې دپاره دی.

گر ہمیں خواہی کہ باشے خوشنویس
مینویس و مینویس و مینویس

د" یدبیضا" د تصنیف تاریخ ۱۹۶۰ء لکه چې کوکب تبرېږي دخپل دتاریخ ګوهۍ نظم په مقطع کښې وائي.

از سر الحمدللہ سال طبع حسن را نجوان
طور معنیٰ حسن خطاطي یدبیضا بخوان

پروفیسر محمد شفیع صابر د "ید بیضا" ا و دې دتخلیق کار ایم.ا یم شریف ارټیسټ په حقله وائي.

"میرے نزدیک ایم ایم شریف پاکستان کے ایسے ہی مایہ ناز اور منفرد فنکار ہیں جنہیں قدرت نے نہ صرف بے پناہ او ہمہ نوع تخلیقی قوتوں سے نوازا ہے۔ بلکہ ساتھ ہی ساتھ ایسا مخلص اور دنیا ومافیھا سے بے نیاز گذشتہ نصف صدی میں ہر لمحہ اور ہر لحظہ وہ خوشنویسی، نقاشی اور مصوری کے فن لطیف کو ترقی دینے میں کوشاں رہے ہیں اور ان کے نگارشات دنیا کی بڑی سے بڑی ہستیوں تک پہنچ کر داد تحسین وانعامات حاصل کر چکی ہے۔ ید بیضا ان کے کمالات کا وہ شاہکار ہے جس پر خود فنکار کو ناز ہے"(9)

عارف منهاس دخطاطۍ او مصورۍ تربیت دخپل پلار نه حاصل کړې دی. د دې نه پس دی ایران ته لاړو چرته چې هغه ددې فن د استاذانو نه په خطاطۍ، مصورۍ ګرافک آرټ او ډرائنګ کښې تربیت تر لاسه کړو. ایران، افغانستان، کویټ او متحده عرب کښې یې په مختلفو ادارو کښې ملازمت وکړو اوبیا واپس پېښور ته راغلو او دلته یې دخپل فن دخطاطۍ او مصورۍ کار شروع کړو. ډېر ایوارډونه او انعامونه یې واخېستل. ډېرې فنپارې یې تخلیق کړې. په پښتو کښې یې په خطاطۍ "ګلستان قلم" نومې کتاب ولیکلو، په مصورۍ او خطاطۍ کښې یې په خپل خاص انداز کښې درحمان بابا دکلام دکتابي خطاطۍ نمائش د آباسین آرټ کونسل دسیوري لاندې په ۲۰۰۶ء کښې وکړو چې ډېر زیات وستائیلی شو. ددې نه علاوه دۀ دمشهور شاعر. ادیب اومصور غني خان شاعري هم د خطاطۍ او مصورۍ په انداز کښې پېش کړې ده.

د دۀ دوست ډاکټر ظهور اعوان ددۀ په فن او فارسۍ کښې دمهارت په موضوع ګڼ کالمونه لیکلي دي.

محمد عارف منهاس" ګلستان قلم" دپښتو دخطاطۍ او خوشخطۍ وړومبی کتاب دی چې دخپلو شاګردانو د زده کړې او لاربښودنې دپاره یې په کال ۲۰۰۸ء کښې لیکلی او چاپ کړی دی. داشعر یې په دې حقله وئیلی دی.

تۀ که غواړې چې دې خط نورهم ښائسته شي
لیکه لیکه زما زویه! تختۍ بیا بیا

"د منهاس ذکر شوی کتاب ته که مونږ دخطاطۍ او خوشخطۍ درسي یانصابي کتاب و وایو نو بې ځایه به نۀ وي. د محترم محمد عارف دا کتاب د ټولو پښتنو دپاره یو ه لویه تحفه ده. دپښتو په تاریخ کښې دا وړومبی کوشش دی. هیله لرم چې ټول پښتانۀ به ترې فائده واخلي"(10)

د کتاب په دویمه او اخیري برخه کښې عارف منهاس درحمان بابا د منتخبو اشعارو خطاطي او مصوري په خپل ښکلي انداز کښې کړې ده.

واقعي چې د عارف منهاس " ګلستان قلم " دپښتو ژبې او ادب په تاریخ کښې وړومبی کوشش دی. "ماته یادیږي چې کال ۲۰۰۶ء کښې اباسین آرټ کونسل پېښور دصوفي شاعر رحمان بابا دمنتخبو شعرونو دمصورانه خطاطۍ نمائش کړی ؤ چې ډېر کامیابه ؤ. هیله لرم چې اوس ګلستان قلم د خوشنویسۍ او خطاطۍ کتاب په اوچه زمکه دباران څاڅکی دی.

که اوس کمپیوټر دا " پټ هنر " تر ډېر ه حده پټ کړی دی، خو بیا هم د دې فن ځینې ځینې هنر مندانو دخپلو پلارونو او نیکونو دا

هنري ميراث ژوندی ساتلی دی چې عـارف منهـاس تـه هـم داسعادت حاصل دی.

" ایم عارف منہاس آل پاکستان خصوصاً صوبہ سرحد(خیبر پختونخوا) میں کسی تعارف کے محتاج نہیں. انہوں نے اپنے والد خطاط اعظم استاد ایم ایم شریف آرٹیسٹ کے نقش قدم پر چلتے ہوئے خطاطی و مصوری میں اپنا مقام بنایاہے. ان کو خطاطی و مصوری کا فن ورثے میں ملاہے. آپ نے کئی ملکی و غیر ملکی مقابلوں میں حصہ لیا. کئی گولڈ میڈلز سر ٹیفیکٹس و کیش انعامات حاصل کئے۔ پہلی بار پشتو زبان میں رحمان بابا کے کلام پر مصورانہ خطاطی کا اعزاز حاصل کیا ہے – جسے کافی پذیرائی ملی جبکہ موجودہ پشتو زبان پر مکمل اور جامع خطاطی کی کتاب "گلستان قلم" کے نام سے صوبہ سرحد میں متعارف کرائی. اس کتاب میں عارف منہاس نے فنکارانہ انداز میں خطاطی کے جوہر دیکھائے ہیں. میں امید کرتا ہوں کہ گلستان قلم بچوں اور بڑوں کے لئے خطاطی سیکھنے کے لئے ایک سنگ میل ثابت ہوگی"(11).

لکه چې وئیلي شوي دي. " گلستان قلم" کښې یوه برخه د رحمان بابا دمنتخبو شعرونو دمصورانه خطاطۍ دپاره هم وقف کړی شوې ده. هم دا هغه برخه ده چې درحمان بابا دمئینانو او مریدانو دپاره د توجه وړ ده. محمد عارف منهاس د رحمان بابا دشپږ دېرشو (۳۶) شعرونو دخطاطۍ او کتابي مصورۍ نمونې په خپله یوه سي ډي (C.D) کښې چې ټائیټل یې دی. Arif Minhas Pashto Art Workهم محفوظ کړې ده. په دې سي ډي کښې دځینې نورو شاعرانو دشعرونو خطاطي او مصوري هم شامله ده.

دلته دعارف منهاس درحمان بابا د ذکر شوو شعرونو دخطاطۍ او مصورۍ په تفصیل سره پرله پسې ذکر کول به د اهمیت نه خالي نهٔ وي. ځکه چې دا زمونږ د دې نني بحث یوه ضمني موضوع هم ده.

"تــــهٔ شـــــهلا ئـــــې شـــــکر لبـــــه
ګـــل رخســـاره ســـیم غـــب غبـــه"(12)

ښاغلي عارف منهاس ورړمبی د رحمان بابا د دې ښکلي شعر خطاطي کړې ده. بیا یې د دې شعردمعنا په رڼا کښې و انک لعلی خلق عظیم، تـه هم دخطاطی مصوری ښکلې جامې اچولې دي او داشان خطاطي او مصوري دواړه یې غاړه غټی کړي دي:

درګـــوهر پـــه تلـــه نـــهٔ دی چـــا تللـــي
درحمـــان شـــعر ګـــوهر دی څـــهٔ یـــې تـــولې

درحمان بابا ددې شعر خطاطي یې دخپل سپېځلي فن په اندازه کښې کړې ده او ورسره یې په پس منظر کښې تله او درګوهر پېنټ کړي دي، داشان یې دشعر دخطاطی او دتلې او درګوهر دمصوری یو بل سره یو موزون تړون پیدا کړ ی دی. هر کله چې د دې دواړو شعرونو مفهوم تر ډېره حده یو دی. په دې وجه د ذکر شوو شعرونو ښکلې خطاطي یې دیو ښکلي هاتي، مصوری (تصویر ) د پاسه کړې ده.

"دا څـــــــهٔ مـــــــخ دی منـــــــور
چـــې هـــم شـــمس دی هـــم قمـــر"(13)

د دې شعر د خطاطی په پس منظر کښې یې دمحمد ﷺ دنوم په مېنځ کښې سپوږمی او نمر جوړ کړی دی.

داهم د عارف منهاس دفن یو ښکلی انداز دی.

دلته مونږ صرف ددهٔ درحمان بابا په هغه شعرونو وړاندې کولو اکتفا کوو چې دهٔ په کښې دخپلې خطاطی جوهر او هنر ځلنده کړی

دی. د دې شعرونو په باب له چې دۀ کومه په زړۀ پورې کتابي مصوري کړې ده. دهغه په تفصیل سره ذکر کول ناممکن دي.

"د جنت دباغ ګلونه به یې هېر شي
که څوک ووینې ګلزار د دروېشانو

هسې ګرم بازار بل په جهان نۀ شته
لکه ګرم دی بازار د دروېشانو

ښه ده ښه ده دا دنیا
چې توښه ده د عقبٰی

د دنیا په بازار کیږي
د هغه جهان سودا

سخي هر یو دخدای دوست دی
وَ لوکَانَ فاسقاً

هر بخیل دخدای دښمن دی
وَلوکانَ زاهداً"(14)

عارف منهاس د ټولو نه زیاته زړۀ راښکونکې مصوري او خطاطي د رحمان بابا د دې شعرونو کړې ده.

"د هاتیانو سوداګر وي
بیا د ګاو خر د لال شي
جوهري وي جوهر پلوري
خاورې اغږي کلال شي"(15)

خو دعارف منهاس مصوري او خطاطي تجريدی (Abstract) ده، خيالي او تخيلي (imaginery) ده. حقيقت پسنده ( Realistic/ concrete) نۀ ده. خو ذکر شوې دواړه دمصورۍ دفن مختلفې ذريعې (Medium) دي خو اول الذکر اسانه ده او مؤخر الذکر گرانه ده. په هر حال هره يوه خپله خپله ښکلا او سپېڅلتيا لري.

الغرض محمد عارف منهاس په رښتيا دخپل فن استاذ دی او د رحمان بابا د اشعارو په صحيح معنو کښې شارح، مفسراو مبصر دی.

شهره آفاق مصور، مجسمه ساز او خطاط ارباب محمد سردار (۱۹۴۵ء) صدراتي اېوارډ برائې حسن کاکردگي د ارباب لنډۍ پېښور د ارباب محمد شعيب خان زوی دی. داسلامي خطاطۍ دفن نمونې د دۀ د بې پناه شهرت باعث دي. دۀ دخوشحال بابا، جناح او اقبال سره سره د رحمان بابا خاکه هم جوړه کړې ده. چې د دۀ رحمان بابا سره دبې پناه مينې اوعقيدت ښودنه کوي. په دې لړ کښې ارباب صاحب راقم الحروف ته په يوه مرکه کښې و وئيل.

" زما د رحمان بابا اشعار ډېر زيات خوښ دي. رحمان بابا سره زما په دې هم مينه ده چې دی زمونږ دسيمې مومندو سره تعلق لري."(16)

هم په دې لړ کښې ارباب صاحب راقم الحروف ته وړاندي ووئيل.

" زه به د رحمان بابا دچونړ کړو غزلو او شعرونو دخطاطۍ او مصورۍ کولو نه پس دا په کتابي شکل کښې چاپ کوم. امېد دی چې دا به زما يو ياد گاري او معياري کار وي." انشاء الله تعالٰی"

ناصر الدين مهمند (تمغه امتياز) دپي ټي وي پېښور نه د يو آرټېسټ په حيث پنشني شوی دی. په حيات آباد پېښور کښې مېشتۀ دی. يو ستر آرټيسټ دی. خپله ذاتي سټوډيو يې ده. درحمان بابا

کلام ته يې دمصورۍ او خطاطۍ رنګينې جامې اچولې دي. دۀ راقم الحروف سره د رحمان بابا دځنې شعرونو دتشريح، معنا او مفهوم په لړ کښې ليدل کتل هم کړي دي. د دې نه معلوميږي چې د دۀ رحمان بابا سره ځومره مينه ده د رحمان بابا د منتخبو شعرونو دخطاطۍ او مصورۍ ګڼې نمونې ئې تخليق کړې دي. د دۀ انفراديت دا دی چې د دۀ مصوري او خطاطي په حقيقت پسندۍ مبني ده. دۀ دلته دتفصيل نګارۍ او جزئيات نګارۍ نه کار اخستی دی. دشعر خطاطي يې دشعر دمصورۍ دننه کړې ده. دۀ د رحمان بابا د يو ويشتو شعرونو خطاطي او مصوري کړې ده.

ناصر الدين مهمند د رحمان بابا، دوه خيالي تصويرونه داسې جوړ کړي دي. چې په يو تصوير کښې د رحمان بابا رباب په غيږ کښې ايښی دی. غړوي يې، پټکی يې په سر دی او ورته خوا کښې چيانك او پيالۍ پرته ده. بل تصوير کښې يې قلم په لاس دی مشوانۍ (دوات) ورسره پرته ده، او تسبې هم پرتې دي. دلته يې صرف پټکی په سر دی، ښاغلي مصور چې د رحمان بابا د کومو منتخبو شعرونو مصوري کړې ده، ځنې شعرونه يې دا دي:

"کـــه همـــه عمـــر بـــاران وربانـــدې ووري
خـــس بـــه ګـــل د پېغمبـــر نـــۀ شـــي هرګـــز
ســـر هـــوا ســـرهوا مـــه ځـــه و اســـمان تـــه
تـــۀ پـــه اصـــل کښـــې لـــه زمکـــې يـــې پيـــدا
چـــې پـــه عشـــق کښـــې دمجنـــون غونـــدې صـــادق وي
رحمـــان وائـــي پـــه هغـــو بانـــدې ســـلام
لکـــه ونـــه مســـتقيم پـــه خپـــل مقـــام يـــم
کـــه خـــزان رابانـــدې راشـــي کـــه بهـــار

لکــــه کانـــدي يـــې پـــه کـــوتترو نظـــر بـــاز
هســـــې زۀ يـــــم د دلبـــــرو نظـــــر بـــــاز
زغـــره واغنـــده مـــلا وتـــړه پـــه جنـــګ
هلـــه پســـه معرکـــه کـــوه د ننـــګ
داجهـــان دی خـــدای لـــه عشـــقه پيـــدا کړی
دجملـــــه ؤ مخلوقـــــاتو پـــــلار دی دا
پـــه مجلـــس د عالمـــانو بـــه ســـرۀ زر شـــي
کـــه څـــوک کـــانی وي کـــه لوټـــه د صـــحرا
هـــيڅ بلبـــل بـــه دګـــل نـــوم اخســـتی نـــۀ ؤ
کـــه خبـــر وې چـــې ګـــل نـــۀ دی خـــار دی دا
چـــې اميـــد پـــه عمـــارت د دې دنيـــا کـــا
د کاغـــذ پـــه کشـــتۍ ســـېر د دريـــا کـــا
کـــه دې څـــاڅکی اُوبـــۀ تـــرېي لـــره ورکـــړې
د دوزخ او ســـتا تـــر ميـــان بـــه شـــي دريـــا
کـــه صـــورت د محمـــد ﷺ نـــۀ وی پيـــدا
پيـــدا کـــړې بـــه خـــدای نـــۀ وه دا دنيـــا"(17)

خو د ناصرالدين مهمند دنقل شوو شعرونو د کتابي مصورۍ تشريح کول په دې لنډ تنګ مضمون کښې ګران دی. ددې دپاره د لوئې مقالې ضرورت دی.

راقم الحروف د دواړو خطاطانو او مصورانو د( عارف منهاس او ناصر الدين مهمند ) ذکر شوې فنپارې د پښتو اکېډمۍ پېښور پوهنتون کلچرل ميوزيم ته د " داشته بکار ائيد" مصداق ډالۍ کړې دي.

رفعت خټک په فائن آرټ کښې ډپلومه هولډر دی. د شيدوکلي نوښار اوسېدونکی دی. نن سبا په اسلام آباد کښې د کار او روزګار

په لړ کښې مېشتهٔ دی. یو ښهٔ شاعر سره سره یو ستر مصور هم دی. په ټول ملک کښې یې د تصویرونو نمائشونه شوي دي. ډېر تعریفي اسناد یې ترلاسه کړي دي. رحمان بابا سره یې مینه او عقیدت دی. درحمان بابا د کلام خطاطي او مصوري بلکې دپښتو دنورو سترو او مشهورو شاعرانو لکه خوشحال بابا ، حمید بابا ، علي خان، عبدالقادر خان خټک، کاظم خان شېدا ، وغیره شعر هم د دې فن او هنر د اظهار پامته داره دی. چې داعظیم کار صرف او صرف خطاطان او مصوران کولی شي. دې سره به نه صرف د دوی خپل فن ځلنده شي بلکې د دوی دسیمې شاعران به هم د نړۍ دپوهانو دسترګو تور شي.

***

# حوالې

(1) Lexicon universal Encyclopedia V P 41-46.

(۲) سمن، رفیق، خطاطی میں اسلامی ورثہ کا گرانقدر حصہ، مشمولہ روزنامہ آج پشاور ہفتہ یکم اکتوبر 2012ء.

(3) هم دغه،

(4) خټک، خوشحال خان، دستارنامه، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي 1991ء مخ35.

(5) هم دغه، مخ36، 37.

(6) د رحمان بابا کلیات، (اردو ترجمہ) پروفیسر طٰہٰ خان، پشتو اکیڈمی پیشور یونیورسٹی، 2006ء، ص112، 168، 173، 176.

(7) هم دغه، مخ 290.

(8) داؤد، داور خان، رحمان بابا علمیت او کتابت، مشموله درې میاشتنۍ تاتره رحمان بابا نمبر، پښتو ادبي بورډ پېښور، 2003ء، مخ55.

(9) صابر، محمد شفیع، پروفېسر، عالم تحیر، مشموله ید بیضا، (د ایم ایم شریف) د چاپ اداره نۀ لري، (س ن) مخ70.

(10) ضیاء، ابراہیم، خطاطی کا عارف، مشمولہ روزنامہ مشرق، سنڈے میگزین، 8 جولائی 2012.

(11) صادق، علی نزاکت، تحفہ مشمولہ روزنامہ آج، 5 اپریل 2008ء.

(12) د رحمان بابا کلیات (اردو ترجمہ) پروفیسر طٰہٰ خان، ص514.

(13) هم دغه، مخ141.

(14) هم دغه، مخ300، 335، 336.

(15) هم دغه، مخ 372.

(16) داؤد، داور خان، د ارباب محمد سردار د فن او فنپارې مطاله، جدون پرنټنګ پرېس پېښور، 2013ء، مخ39.

(17) د رحمان بابا کلیات (اردو ترجمہ) پروفیسر طٰہٰ خان، مخ168، 183، 217.